

# راغلي خطونه

ګرانه قدردانه محترم رحمت شاه سائل صېب
چيف ايډيټر مياشتنۍ "پښتون" پېښور.

د مينې او خلوص نېکې هيلې سلامونه او دعاګانې تر تا وړاندې کوم او هر وخت ستا روغتيا د لوئې الله تعالىٰ نه غواړم.

زړۀ خو هسې هم د ارمانونو کور دے او زما هم په دې کور کښې څو داسې ارمانونه وو لکه د ازغو پشان به پکښې نېغ ولاړ وو خو اوس هغه ازغي نور ترې راووتل او يو ازغے پکښې پاتې دے او اميد دے چې هغه باهم په نېزدې راتلونکي کښې داسې ترې ووځي لکه دا دې نورو چې په هېڅ دړد يې پوه نۀ شوم او ترې ووتل، هغه يو ارمان دا دے چې پښتونخوا کښې امن را وستل.

زما مطلب دا دے چې عوامي نېشنل پارټۍ وي دې ټولو هغو پښتنو چې له پښتو، پښتنو او پښتونخوا سره مينه لري داسې به د دوي هم ارمانونه پوره وي او پوره کېږي به لکه زما. دا ځکه چې په تېرو څو "کښو" کښې مې چې د پښتو د لازمي مضمون په باره کښې څو څو ځله د مقالې ولوستلې چې په سکولونو کښې به له پرايمرۍ نه تر کالج پورې پښتو وئيل کېږي نو اوس زما زړۀ ډېر زيات ډاډه او خوشحال شو، زما دا ارمانونه چې پښتو د پښتونخوا په نصاب کښې شاملېدل او د پښتنو هغه شناخت چې په ورکېدو ؤ خو اې ابن پي پښتنو له هغه خپل نوم وګټلو په کوم چې پېژندل کېږي او د پښتنو سترګې وغړېدې او په پښتنو کښې هغه خپلې جذبې يو ځل بيا ځوانې شوې.

لس کاله مخکښې مې ستا يو غزل د ګلزار صېب په اواز کښې اورېدلے ؤ، ډېر زيات مې خوښ و او يو بند پکښې داسې ؤ، چې هغه وخت يې زه ښه په مطلب نۀ پوهېدم، هغه دا ؤ:

زۀ به د خپل حسن نمر پيدا کړمه
شپې ستا نه به سور سحر پيدا کړمه
خدايږو چې په زور به دې د مخ نه نقاب واړوم

يا دا شعر:

قيصه زما د مستقبل سائله
چې شپه لري څنګ به سحر نۀ لري

نن چې زۀ دې ښکلې پښتونخوا ته فکر کوم،زما په خيال کښې هر وخت دا شعرونه زيات رادرومي، دا ځکه چې اې ابن پي په دې څلورو کالو کښې په پښتونخوا کښې کوم کارونه او خدمات

وکړل، هغه ډېر د ستائينې وړ دي.

له کوم وخت چې په پښتونخوا کښې د اې اېن پي حکومت راغلو نو زمونږ قبايلو ته په کښې هم هغه حق ورکړے شو، چې هغه د قبايلو بنيادي ضرورتونه وو، په قبايلي سيمه کښې چې کوم د ترقۍ ګامونه پورته کړل شوي دي، اميد دے چې د هغې سره به د قبايلو په ژوند کښې ډېر بدلون راشي او د قبايلو ستونزې به حل شي، هغه دا چې په اول ځل په قبايلي سيمه کښې د انفارميشن ټيکنالوجۍ پوهنتونونو او ميډيکل کالجونو منظوري، سکولونه جوړول او داسې نور ډېر اهم کارونه کړي دي، د دې اهم کارونو کولو دپاره زه د وزيراعلیٰ ښاغلي امير حېدرخان هوتي او اې اېن پي د ټولو غړيو ډېره مننه کوم.

ماته چې په ډېره اسماعيل خان کښې په اول ځل "پښتون مجله" په لاس راغله نو زۀ ډېر خوشحاله شوم، دا ډېره د فخر خبره ده، چې په پښتونخوا کښې مونږ داسې مجله لرو، چې هغه په سياست، اقتصاد، ټولنه، ثقافت او ادب سره په نورو نړيوالو موضوعاتو هم نظر ساتي.

اې اېن پي د هغې تورې شپې نه دا نقاب داسې واړولو چې د الله په فضل د ټول عمر دپاره يې د پښتنو سترګې وغړولې او د هغو خلقو هغه ټولې منصوبې يې شنډې کړې، چې هغو د پښتنو دورکېدو خوبونه ليدل.

زۀ د پښتونخوا د وزيرتعليم سردار حسين بابک صېب او د بښتونخوا د بورډ چئيرمېن ډاکټر فضل الرحيم مروت صېب په نصاب کښې د پښتو د لازمي مضمون شاملولو او د دې اهم کار کولو ډېره مننه کوم او د ښاغلي امير حېدر خان هوتي د کوششونو او اهم کارونو ډېره مننه کوم او د اطلاعاتو وزير چې هغه د پښتونخوا د ټولو فنکارانو لکه شاعرانو، اديبانو، سندرغاړو او ډرامه نګارو سره مرسته کولو کښې او د تېرو فنکارانو په ياد کښې په نشترهال کښې هغه غونډې او دستورې کولو هم ډېره مننه کوم او د اې اېن پي د ټولو غړيو هغه کۀ نرينه دي کۀ زنانه چې د پښتنو د مشر ښاغلي اسفنديار ولي خان صېب په مشرۍ کښې خپل کوششونه او هلې ځلې کوي او د پښتونخوا د ښۀ راتلونکي دپاره اهم ګامونه پورته کوي، ډېره زياته مننه کوم او په خاصه توګه ستا د دغه خدمتونو چې "پښتون" په ډېر ښۀ شان شايع کېږي او زمونږ تر لاسو رارسېږي او د دې سره د پښتو د ادب برخه کښې ستا تخليقاتو او محنت ته لاس په تندي سلام او ډېره مننه کوم.

الله تعالیٰ دې ستاسو ټولو ته سره زمونږ ډېر عمر درکړي او الله پاک دې مونږ له هم د دې کارونو کولو توفيق راکړي، چې مونږ هم په روڼ تندي د پښتونخوا حق ادا کړےشو، الله تعالیٰ دې ټول پښتانۀ په اتحاد او اتفاق لري. امين يا رب العلمين.

کۀ زړونه سره يو کړو او لاسونه سره ورکړو
دا کاڼي به لعلونه شي دا بوټي به لونګ شي

(درويش دراني)

په درناوي ستا مينه وال
عطاءالله مفتون